کله چې مې زړه کې ناروا خبـــره تېره شي
ما ته مې ضمیر لکه قاضي مخې ته ودرېږي.



# زما وجدان

لنډه کیسه

لیکوال
شریف الله تنها

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

## معرفت

د ژانر ډول................................................ لنډه کیسه

د کیسې نوم................................................ زما وجدان

لیکوال...............................................شریف الله تنها

د تلیفون شمیره.................................0093706996648

برېښنا لیک ..................shariftanha600@gmail.com

د واټساف شمیره................................0093779385830

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل

هغه محال چې د پوهنتون په دوره کې مې د څلورم سـمستر ازموينې پيل وې، په دولتي ليليه کې اوسېدم. سـحر چې د لمانځه وخت و، د اودس لپاره د غسلخانې پر لور لاړم، څه کورم چې د هغه وخت په حساب سره يو قيمتي تليفون پروت دی. چاپېره مې وکتل چې څوک مې تر سـترګو نه شـول، نو تلېفون مې ورو په بېره ووهه. خدای شـته، نيت مې ښـه نه و، فکر مې کاو چې له ازموينو وروسـته به يې وپلورم. له اودس څخـه وروسـته غلی راغلم او خپلې خونې ته ننوتلم. د سـحر د چای وخت و، يو ملګري چې د ډوډۍ بندوبسـت کړی و، ټول ورته په دسـترخوان کښېناستو، د ډوډۍ په خوړلو مو پيل وکړ، په دغه وخت کې دروازه (ور) وټکېده، يو زده کړيال سر راښکاره کړ او ويې ويل: ملګرو په غسلخانه کې د اوداسه پر محال زموږ د يو ورور څخه تلېفون پاتې شـوی دی، بېچاره ډېر اندېښـمن دی، که په تاسـې کې کوم ملګري راپورته کړی او يا ليدلی وي نو.... په دغه وخت زموږ اطاقي د هغه خبرې پرې کړې او زما پر شمول يې په ټولو اطاقيانو غږ وکړ: ملګرو د ورکې په اړه  خو به څه معلومات نه لرئ؟ ټولو په يوه خوله ځواب ورکړ: نه نه موږ له هېڅ نه يو خبر. په زړه کې مې يو څه رحم راپيدا شـوی و، ومې غوښـتل چې تلېفون يې بېرته ورکړم، خو شېطان او حارص نفس زما د ضمير په وړاندې لکه د ډال ولاړ وو. دومره وخت تېر نه و چې د ورکې پوښـتونکی ولاړ. ملګرو مې په خپلو کې يو پر بل رشخند وواهه، يو به بل ته په ټوکو کې ويل: دغه تلېفون به پلاني راخيستی وي، خو نه يې ورکوي. يو شمېر ملګرو ما ته هم ګوته ونيوه. هغوی ټوکې کولې، خو ما ته چې به چا اشـاره وکړه، زړه به مې ودرزېد او اندېښمن به شوم، ما به له ځان سره چرُت واهه چې ګويا کې پر ما پوه دی. له چای او ډوډۍ څخه وروسته ټول ملګري په خپلو کارونو پسې ولاړل، دا چې ما هم ازموينه درلوده، نو پاڅېدم، ترڅو درسـونه زده کړم. لاړم ټوله ورځ مې درسونه وکتل، خو ضمير مې هره ګړۍ د ملامتيـا او پښـېمانۍ احسـاس راکاو. زه دومره بد هم نه وم، نه پوهېدم چې دا مې څه او څنګه وکړل! ډېر اندېښمن وم، ضمير مې يوه لحظه د درس زده کولو ته پرې نه ښودم. ټوله ورځ مې د ضمېر سره لاس وګرېوان وم. زما په نفس کې د شېطاني خواهشاتو او سپېڅلي ضمير تر منځ جګړه روانه وه او پايله يې هم دا وه چې شېطاني خواهشات مې په ضمير برلاسي شول. هوکړه مې وکړه چې پر هر حال وي، تلېفون يې څېښـتن تـه نـه ورکوم. د مـازيګر د لمـانځه وخت و. اودس مې وکړ او لمونځ مې په جماعت سره ادا کړ. کتـابونـه مې پـه لاس کې وو او لـه جومـات څخه د خپلې خونې (اطاق) په لور راروان وم. د ليليې غټې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې ته راورسـېدم. یوه سپینه ورقعه (پاڼه) مې ولیده چې په دروازې پسې اوېزان وه، ترې تېر شوم، خو بېرته راوګرځېدم، غوښــتل مې چې د دغې پاڼې پر مفهوم وپوهېږم. ومې لیدل چې د پاڼې پر سر یې لیکلي وو: د نادرکۍ او ورکې اعلان. د دغو کلیماتو په لوسـتلو مې د بدن ویښتان نېغ ودرېدل. یو څو نور کسان مې هم تر څنـګ ولاړ وو، اراده مې وکړه چې نوره لیکنه یې نه لولم، خو خدای به نه غوښـــتل چې په ګُنا کې ښـکېل شم. زړه نا زړه مې د نورې لیکنې په لوستلو پیل وکړ، په لیکنه کې مې هغه ټکې ولوستل چې زما په نفس کې یې پټ شـېطاني خواهشـات مات کړل، زما سـترګې یې بینا کړې، زما وجدان ته یې د ډاډ ځواک ورکړ او لعنتي شـــېطـان یې زلیلـه کړ. پـه دغه خط کې یې لیکلي وو: د یو بې وزله ورور څخه په غسلخانه کې تلیفون پاتې شوی و، که چا پورته کړی وي، نو د انساني همدردي له مخې ورته تلیفون او یا د هغه سـیم کارتونه وسـپارئ! باور وکړئ چې د دغې لیکنې د لوســتلو پر محال چې کله د ( انســاني همدردی) کلیمو ته راورسېدم، نو سترګې مې له اوښکو ډکې شوې، علق مې وچ شو او ټول وجود راباندې بار شـو. په زنګېدلو قدمونو مې ځان خپل اطاق ته ورسـاو. په خونه کې څوک نه وو، دروازه مې پورې کړه او ومې ژړل. یوه شــېبه مې داســې ژړا وکړه چې عجب کیفیت راباندې راغی او په لومړي ځل مې د ژړا څخه خوند واخیسـت. یوه شـېبه ناسـت وم چې زړه مې ښـه تش او سپک کړ. پاسېد او په خوفیه ډول تر غسلخانې پورې لاړم. د مازیګر وخت و، هېڅ څوک نه وو، تلیفون مې غلی په هغه ځای کې کېښود چې مـا ورڅخه پورته کړی و. راغلم له خپلې خونې څخه مې د تلیفون ننداره کوله چې آیا څېښـــتن یې پورته کوي او که بل څوک. شـېبه وروســته چې تلیفون ته زنګ ورغی، ومې لیدل چې تلیفون یې څښـتن پورته کړ. باور وکړئ! له زړه او ضـمیر څخه مې بار او بوج ښکته شو او داسې خوشحال شوم، لکه ډېر څه مې چې تر لاسه کړي وي او دا د ایمان نښه ده چې مسلمان په خپلو ښو باندې خوشحال او په بدو خفه شي.

وختونـه تېرېدل، ازموینې ختمې شـــوې، کور ته راغلم. ملګرو مې ویل چې کرکیټ کوو، نو ما هم ورسره ومنله، تر دې چې لوبغالي ته ورسـېدو. تر ماښــامه مو ســپورت وکړ. په کلي کې به مو د ســپورت پر محال خپل کمیس څکه ویســته چې د سپورت کول پکې ستونزمن وو. په دغې ورځ مو هم کمیسونه ویستلي وو. زما د کمیس په جېب کې مې نغدې روپۍ او یو تلیفون پروت و. دا چې کور ته راسـتنېدو، نو کمیسونه مو واغوسـتل. ما چې کمیس پر تن کړ، نو داسـې مې وانګېرله چې په جېب کې مې څه کم شوي دي. شکي وم، نو جېب مې وکوت، ډېر ژر خبر شـــوم چې په جېب کې مې تلیفون نشـــته او تصـــادف دا و چې زما

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلېفون د هغه تلېفون پخېر و چې په ليليه کې ما راپورته کړی و. په هلکانو مې غږ وکړ: هلکانو په جېب کې مې تلېفون نشته! يو ملگري وويل: ټول پر ځای ودرېږئ! تر ځو د ټولو د جېبونو حال واخلو، خو دغه چاره راته ســمه ښکاره نه شوه. ملگری مې له پلټنې څخه منع کړ او فکر مې کاو چې کېدای شي تلېفون مې له کوره نه وي راوړی. کور ته راغلم تلېفون مې وپلټه، خو پيدا نه شـــو. اوس نو په بشــپړ ډول باوري شـــوم چې تلېفون ( موبائل) راڅخه چا غلا کړ، خو ناهيلی نه شـــوم او له ځان سره مې په زړه کې وويل: خدايه! که ســتا د رضا لپاره مې هغه تلېفون چې په ليليه کې يې ما د غلا کولو پخه اراده کړې وه، بېرته د هغه څېښــتن ته ســپارلای وي، نو زما تلېفون چې په حلالو روپيو پېرل (اخيســتل) شــوی دی، ما ته بېرته وسپاره!

شــپه وه، ويده شــوم، خو نه پوهېږم ولې مې داسې نه محسوسوله چې له ما څخه دې څه ورک شوي وي. ســحر چې لمانځه ته پاســېدم، لمونځ مې وکړ، بېرته بړستنې ته وروختلم، په دې کې زمونږ د کور يو کوچنی راغی او راته يې وويل: له تا څخه خو به پرون څه نه وي ورک شوي؟ زړه مې ودرزېد او ومې ويل: ولې نه تلېفون راڅخه ورک شـــوی دی. تلېفون يې چې په لاس کې نيولی و، راته راکړ او ويې ويل: د پلاني زوی راوړ او ويل يې چې موندلی يې دی. د باندې ورووتم، موندونکي ته مې ((چې په حقيقت کې غل و، خو خدای يې په زړه داســـې رحم کړای و، لکه زما په زړه يې چې کړی و)) انعام ورکړ او له هڅونې څخه مې هم برخمند کړ.

کلــه چې بېرته کور ته راوگرځېدم، نو له ځان سره مې وويل چې خدای (ج) ډېر غيرتي ذات دی. ما پردی مال د هغه څېښتن ته بېرته وسپاره، نو خدای زما تلېفون ماته راورساوه.

څوک چې خــدای (ج) تــه لږ ورنيږدې شي، نو خــدای ورتــه ډېر ورنيږدې کېږي. څوک چې د توبې لپــاره سپېڅلی نيت وکړي، نو خدای (ج) توفيق او توان ورکوي. الله تعالی موږ ته خپل قدرتونه راپېژني، موږ ته توان راکوي چې کړنې تر سره کړو او خدای ښکاره کړي چې د نه ليدلو په حال کې ورڅخه څوک ويرېږي او څوک نه. نو د هغه کړنو تر سره کول پکار دي چې خدای پرې خوشــحال او موږ پرې شــکر گزاره شــو. بــايد هغه څه وکړو چې پر ځان مو پېرزو وي، ځکه چې په پښــــتو کې متلونه دي: خپل عمل د لارې مل دی او چې څه کړې هغه به رېبې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**